ماشومانو مقدس کتاب
وړاندې کونکے

کله چې خدائ پاک هر
څيز پيدا کړو

لیکونکے: Edward Hughes

خیال: Byron Unger; Lazarus
Alastair Paterson

خوښونکے: Bob Davies; Tammy S.

ترجمه کونکے: Aim4Faith Ministries

مددګار: Bible for Children
www.M1914.org

©2020 Bible for Children, Inc.
تاسو دا قیصۍ نقل کولے شئ یا چاپ کولے شئ خو دا خرڅولے نۀ شئ.

مونږ ته چا ووئيل؟ چې مقدس کتاب، د خدائ پاک دا
حکمونه بيانوی، چې د انسان ژوند څنګه شروع شو.
د ټولو نه ړومبے خدائ پاک انسان پيدا کړو.
او د هغۀ نوم يې آدم کېښخودو.

خدائ پاک ادم د زمکې د خاوری نه جوړ کړو، بیا خدائ په آدم کښې د ژوند ساه پوه کړه. نو په هغۀ کښې ساه راغله، هغۀ خپل ځان په یو ښکلی باغ کښې ولیدلو، چې د هغې باغ نوم عدن وو.

د آدم د پیدا کیدو نه مخکښې خدائ پاک یوه ښکلی دنیا جوړه کړه. چې د ښکلو او مزیدارو څیزونو نه ډکه وه. بیا خدائ پاک په رو رو غرونه، کولاو میدانونه، وابنهٔ، ښکلی ګلونه، دنګی ونې، پرکیدونکې وازرو والا مارغان میان (کبان) او سمندری ساه اخستونکې ځناور پیدا

کړل.په حقیقت خدائ هغه هر څهٔ پیدا کړل چې څهٔ موجود دی.

په شروع کښې د دې نه مخکښې
چې خداي پاک څۀ جوړول، نو د
هغۀ نه علاوه نور هيڅ هم نۀ وو.
نۀ خلق، نۀ څۀ ځايونه، او نۀ څۀ
نور څيزونه وو. نۀ رڼا
وه او نۀ تيارۀ، نۀ تيره
شوې ورځ وه او نۀ
راتلونکې ورځ وه. صرف
خدائ پاک وو. او د هغۀ
څوک شريک نۀ وو. بيا
خدائ پاک کار شروع کړو.

په شروع کښې خدائ پاک آسمان
او زمکه پیدا کړل.

زمکه شاړه وه، او هر
خواه تیارۀ وه، نو بیا
خدائ پاک حکم
وکړو،"چې رڼا
دی شی".



نو رنا شوه، خدائ په رنا ورځ او په تیارۀ شپه
نوم کېښودو. بیا مابنام شو او سحر شو، او
ړومبئ ورځ شوه.



په دویمه ورځ خدائ پاک د آسمان لاندې د سمندرو، سیندونو، او دریابونو، نهرونو تولې اوبه په یو ځائ کښې راغونډی کړی. په دریمه ورځ خدائ پاک حکم وکړو، "اوچه دې رابښکاره شی" نو هم داسی وشول.



خدائ پاک ګلونه او د مېوو بوټی پیدا کړل. او ونو له یې
حکم ورکړو چې زرغوني شئ. نو هم هغه
شان وشول. او مابنام شو او
سحر شو، دریمه ورځ شوه.

بیا خدائ پاک نمر، سپورمئ
او ډیر ستوری جوړ کړل، چې
شمیرلے نۀ شول. مابنام شو او
سحر شو، څلورمه ورځ شوه.

سمندری مخلوق میان (کبان) او مارغان یې پیدا کړل. په پیځمه ورځ خدائ پاک غټ میان (کبان) او واړۀ میان، او د دنګو پښو والا شترمرغ، او ښکلې آوازونو واله واړې مرغۀ یې هم پیدا کړې. خدائ د اوبو د پاره هر قسمه میان پیدا کړل، او د زمکې د ښائسته ښکاریدلو د پاره یې هر قسمه ځناور پیدا کړل، او مابنام او سحر شو، پینځمه ورځ شوه.

د دې نه پس خدائ پاک ووئيل،" چې زمکه دې هر قسمه څيزونه پيدا کړی ..." او هر قسمه ځناور او په خيټه خويدونکی ځناور يې پيدا کړل" هغۀ په زمکه هاتيان او مړی هم پيدا کړی، مکړمچ، غواګاني، سوئ، پيشوګاني يې هم پيدا کړې. په دې ورځ خداي پاک هر قسمه ځناور پيدا کړل.

مابنام شو او سحر شو، شپږمه ورځ شوه.



خدائ پاک په دې ورځ نور څۀ وکړل، چې هغه ډير خاص وو.انسان د پاره هر څۀ تيار وو. په پټو کښې خوراک وو، او ځناورو به د هغې خدمت کولو. نو خدائ ووئيل "راځئ چې مونږ انسان د خپل صورت په شان جوړ کړو".

خدائ پاک آدم له حکم
ورکړو، چې تۀ د باغ
د هرې یوې ونې نه
مېوه خواړلے شی خو
د بنۀ او بد پوهه
ورکولو ونې مېوه مۀ
خوره. کۀ تا د دې
ونې مېوه وخواړه نو
تۀ به مړ شی.

بیا خدائ پاک ووئیل، "چې د آدم دپاره یواځې اوسیدل ښه نۀ دی. زۀ به د هغۀ دپاره یو مدد ګار جوړ کړم" خدائ پاک ټول ځناور او مارغان آدم له راوستل.

آدم هغوئ له نومونه کېښودل.په دې هر څۀ کول هغه پوهیدو. خو په ټولو ځناورو او مارغان کښې آدم ته یو مدد ګار هم ملاو نۀ شو.

بیا خدائ پاک آدم په درون خوب اودۀ کړو، او هغه د آدم
د پوښتو نه یوه پوښتي وویستله. او د هغه پوښتئ نه یې
یوه ښځه جوړه کړه. هغه خدائ پاک
د آدم د مدد د پاره جوړه کړه،
او هغه بلکل د آدم
په شان وه.

خدائ پاک په شپږو ورځو کښې هر څيز جوړ کړو.بيا خدائ پاک اوويمی ورځې له برکت ورکړو. او هغه يې د سبت ورځ وګرځول.
په باغ عدن کښې، آدم او د هغۀ ښځې حوا په مکمله توګه د خدائ تابعداری کوله.

کله چې خدائ پاک هر څیز پیدا کړو

دَ خدائ په کلام په مقدس کتاب کښ دا قیصۍ

شته دے

پیدایښت1-2

"ستا دَ خبرو تشریح نُور بخښی ۔"

زبور 130:119

ختم شو

دا قیصۍ مونږ ته زمونږ د حیرانونکی خدائ په باره کښې ښودنه کوې چې چا مونږ پیدا کړو او چې څوک غواړی چې هغه مونږ وپیژنو.

خدائ پوهیږی چې مونږ ډیر علط کارونه کړی دی، چې هغې ته هغه ګنا وایې. د ګنا مزدوی مرګ دے خو خدائ مونږ سره ډیره مینه کوې نو ځکه هغۀ خپل یک یو زوئ راولیږلو چې هغه زمونږ د ګناهونو د خاطره سزه وزغمې او په سولې خپل ځان قربان کړې.او بیا عیسی د مړو نه ژوندے شو او آسمان ته لاړو. کۀ تۀ په عیسی باندې ایمان راوړې او د هغۀ نه د خپلو ګناهونو بخښنه غواړې نو هغه به تا ته بخښنه وکړې. هغه تا خواته راځی او ستاسو دننه به استوګنه کوی او تۀ به هغه سره د همیشه د پاره ژوندے اوسیږی.

کۀ تۀ په دې ایمان لرې چې دا ربښتیا دی نو خدائ ته ووایه.خوږه عیسی زۀ ایمان لرم چې هم تۀ خدائ یې. تا زما د خاطره پیدا شوې او زما د خاطره مړ شوې او اوس تۀ د تل د پاره ژوندے یې. زما په ژوند کښې راشه او زما ګناهونه وبخښه، چې زۀ هم د نن نه ژوندون ومومم او د همیشه د پاره تاسره یم. زما مدد وکړه چې زۀ ستا تابعداری وکړم او ستا زوئ یا لور جوړه شم. آمین
مقدس کتاب ولولئ او خدائ سره روزانه خبرې وکړئ، یوحنا۳:۱۲